# په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت  په اړه تازه راپور

جنوري-مارچ ۲۰۲۶

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دغه راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه راپور، چې د ۲۰۲۶ کال له جنوري څخه تر مارچ[۱] پورې موده رانغاړي، د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا له ورکړل شوي ماموریت سره سم د ترسره شوې څارنې پر بنسټ چمتو شوی.[۲]

## د ښځو حقونه

### کار

د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر له ۷ نېټې راهیسې، *برحاله* چارواکو په ټول هېواد کې افغان ښځې (د ملګرو ملتونو کارکوونکو، قراردادیانو او مراجعینو په ګډون) د ملګرو ملتونو ودانیو ته له ننوتلو څخه منع کړې دي. د مارچ ۳۱مه، ۲۰۵مه ورځ وه چې افغان ښځینه کارکونکو ونشو کولای چې په ټول هیواد کې د ملګرو ملتونو ودانیو ته لاسرسی پیدا کړي.

د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ په ۱۷، رسنیو راپور ورکړ چې *برحاله* چارواکو ښځې د ملکي خدمتونو د معاشونو له لېست څخه لرې کړې دي، او هغه کم شوي معاشونه یې پای ته ورسول چې مخکې هغو ښځینه دولتي کارکوونکو ته ورکول کېدل چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې خپلو دفترونو ته له تلو منع شوې وې.[۳] په ځینو ولایتونو کې، اړوندو ادارو ښځو ته وویل چې له دندو ګوښه شوي دي او نورې دولتي کارکوونکې نه دي، خو په نورو ځایونو کې هغوی ته هېڅ خبر نه وو ورکړل شوی او یوازې هغه مهال پوه شوې چې د میاشتې معاش یې ترلاسه نه کړ.

### زده کړې

نوی تعلیمي کال په مارچ کې پیل شو. د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو پر زده‌کړو بندیز اوس پنځم پرله‌پسې کال ته داخل شو. د یونسکو د مالوماتو له مخې، له ۲۰۲۱ کال راهیسې ۲.۲ میلیونه افغانې نجونې او ښځې له منځنیو او لوړو زده‌کړو څخه بې‌برخې دي.[4]

### *د ښځو د تګ راتګ پر آزادۍ محدودیتونه*

په هرات ولایت کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري محتسبینو لا هم له ښځو څخه غوارې چې په عامه ځایونو کې لوی څادرونه په سر کړي.[5] یوناما په هرات کې ډېرې داسې پېښې ثبت کړې دي چې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اداري محتسبینو ښځو ته امر کړی چې له عامه ترانسپورټي وسایلو څخه ښکته شي، یا یې د لنډ وخت لپاره بندیانې کړې دي، ځکه چې هغوی لوی څادرونه[٦] نه وو په سر کړي. د بېلګې په توګه:

- د جنورۍ په ۱۱، په هرات ښار کې یوې ښځې ته امر وشو چې له ټکسي څخه ښکته شي، ځکه چې هغې لوی څادر نه وو په سر کړی.
- د فبرورۍ په ۱۲، په هرات ښار کې دوو ښځو ته امر وشو چې له بس څخه ښکته شي، ځکه چې هغوی لوی څادرونه نه وو په سر کړي. *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اداري محتسبینو هغوی ته وویل چې خپلو کورنیو ته زنګ ووهي، څو ورته لوی څادرونه راوړي؛ کله چې هغوی دا کار وکړ او لوی څادرونه یې په سر کړل، بیا هغوی ته اجازه ورکړل شوه چې له سیمې څخه لاړې شي.
- د مارچ په ۲۳، د هرات ښار، جبرئیل سیمې په بېلابېلو برخو کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اداري محتسبینو هغه ښځې ودرولې چې لوی څادرونه یې نه وو په سر کړي. هغوی یې د سړک غاړې ته ودرولې او تر هغه وخته یې وساتلې څو د

[۱] ټولې ذکر شوې نېټې په ۲۰۲۶ کال پورې اړه لري، مګر دا چې په بل ډول یې یادونه شوې وي.
[۲] د ملګرو ملتونو امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) ګڼه پرېکړه لیک، چې د ۲۸۱۸ (۲۰۲۶) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ تمدید شو.
[۳] یوناما/د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ دفتر(OHCHR) ، *په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه تازه راپور: اپرېل – جون ۲۰۲۴*، ۳۰ جولای ۲۰۲۴. سرچینه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/english - unama hrs - update hr situation afghanistan april-june 2024.pdf.
[4] یونسکو(UNESCO) ، *افغانستان: څلور کاله وروسته، ۲.۲ میلیونه نجونې لا هم له ښوونځي منع دي*، ۱۴ اګست ۲۰۲۵. سرچینه : https://www.unesco.org/en/articles/afghanistan-four-years-22-million-girls-still-banned-school
[5] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (UNAMA) / د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ دفتر(OHCHR) ، *په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت تازه راپور: اکتوبر – ډسمبر ۲۰۲۵*، ۸ فبروري ۲۰۲۶. سرچینه https://unama.unmissions.org/en/document-library/update-human-rights-situation-afghanistan-october-december-2025 :
[6] لوي څادر (چادر): هغه لباس ته ویل کیږي چې سر او ټول بدن پکې پټیږي.

کورنۍ غړو ورته لوی ځادرونه راوړل.

یوناما د ښځو د تګ راتګ د ازادۍ په اړه نور محدودیتونه هم مستند کړي دي. په ارزګان، پکتیا او کندهار کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اداري محتسبینو روغتیايي مرکزونو ته لارښوونه کړې چې له محرم څخه پرته د ښځو درملنه ونه کړي، او ښځینه روغتیايي کارکوونکو سره هم دندې ته د تګ راتګ پر مهال باید محرم ورسره وي. په ارزګان او غزنۍ ولایتونو کې، د همدې اداري محتسبینو دوکاندارانو ته ویلي چې له محرم او مناسب حجاب څخه پرته پر ښځو توکي ونه پلوري. په یوه پېښه کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو یو دوکاندار په دې تور ونیوه چې یوې ښځې باندې چې محرم ورسره نه وو، توکي پلورلي وو. هغه د یوې شپې لپاره *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کې بندي شو. په کندهار کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو د معاملاتو د لارښوونې کارکونکو ته لارښوونه کړې چې له محرم څخه ښځو ته کور په کرایه ورنه کړي.

## د پولې په اوږدو کې پېښې

د پولې په اوږدو کې هغه پېښې چې د ۲۰۲۶ کال د جنوري له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې د ولسي مرګ ژوبلې لامل شوې، د یوناما په راپور کې "په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې ولسي مرګ ژوبله: جنوري - مارچ " تر سرلیک لاندې رانغاړل شوې.

## بدني سزا

د یوناما بشري حقونو څانګې د جنوري له ۱ څخه تر مارچ ۳۱ نېټې پورې د *برحاله* چارواکو لخوا ، لږ تر لږه ۳۱۲ کسانو (۲۶۹ نارینه، ۳۹ ښځې او څلور هلکان) پر وړاندې قضايي بدني سزاګانې مستند کړې.

د بېلګې په توګه، د فبرورۍ په ۵، د پروان ولایت په بګرام ولسوالۍ کې، د شفق عالي ښوونځي په انګړ کې، د ولسوالۍ *برحاله* لومړنۍ محکمې چارواکو پنځه نارینه او درې ښځې، هر یو ۳۹ دُرې ووهل. یاد کسان د ولسوالۍ *برحاله* لومړنۍ محکمې له خوا د "نامشروع اړیکو" په تور محکوم شوي وو. له دغو کسانو څخه دوه نارینه او دوه ښځې په څلورو کلونو بند او دوه نارینه او یوه ښځه د دوو کلونو بند په سزا محکوم شوي وو؛ او یو بل نارینه په یو کال بند محکوم شوی و. هغوی په عام محضر کې، د پروان د *برحاله* استیناف محکمې د رئیس، د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري او د *برحاله* استخباراتو د لوی ریاست د چارواکو، او د ځايي اوسېدونکو په وړاندې په دُرو ووهل شول.

## د پخواني حکومت چارواکي او افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو غړي

د جنوري له ۱ څخه د مارچ ۳۱ نېټې پورې، د یوناما بشري حقونو څانګې د پخواني حکومت د چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د خپلسرو نیونو او توقیف لږ تر لږه ۲۳ او د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه نهه او سربېره پر دې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو لږ تر لږه پنځه د وژنو پېښې ثبت کړې دي.

هغه پخواني چارواکي او افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه چې په جبر سره افغانستان ته راستانه شوي د بشري حقونو د نقض له خطر سره مخ دي. د دې راپور په موده کې، یوناما د پخوانیو چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په وړاندې د بشري حقونو د نقض[7] اته قضیې مستندې کړې (د راستنیدو څخه څو ساعته یا څو میاشتو وروسته د بشري حقونو د نقض سره مخ شوي). دوی په دې وروستیو کې په جبري ډول افغانستان ته راستانه شوي. د جنورۍ په ۷، د جوزجان ولایت په خواجه دوکوه ولسوالۍ کې، د پخواني حکومت پلوه ملېشو یو پخوانۍ قوماندان د نامالومو کسانو له خوا چې د هغه کور ته په زور ننوتي وو، په ډزو ووژل شو. هغه د طالبانو واک ته رسیدو وروسته ایران ته تښتېدلی و، او وژل کېدو څخه شاوخوا پنځه میاشتې مخکې په جبري ډول بېرته افغانستان ته راستون شوی و.

۷ د بشري حقونو نقض، خپلسرو نیونو یا توقیف، غیرقضايي وژنو، شکنجې، او ظالمانه، غیرانساني یا د سپکاوي څخه ډک چلند یا سزاګانو ته شاملېږي.

## د رسنيو آزادي

د جنورۍ په ۲۶، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خپل ايکس پاڼه اعلان وکړ چې د رسنيو د ملاتړ يوازې درې سازمانونه د فعاليت اجازه لري او د پاتې ټولو د فعاليت جوازونه يې لغوه کړي دي. د جوازونو د لغوه کولو لامل دا ښودل شوی چې يادو سازمانونو په غير مسلکي ډول فعاليت کاوه او ځينې يې غير فعال وو.[8]

د دې راپور په موده کې، *برحاله* چارواکو د دوه رسنيو فعاليتونه وځنډول:

- د فبرورۍ په ۲۸، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت ویاند په خپله ايکس (X) پاڼه اعلان وکړ چې د راه فردا ټلويزيون فعاليتونه يې ځنډولي دي.[۹] لامل يې دا وښودل شو چې د دې شبکې مشر په عام توګه ويلي وو چې د پاکستان د پوځ له خوا د افغان ملکي وګړو پر وړاندې پوځي اقدامات د توجيه وړ دي او د *برحاله* چارواکو غچ اخيستونکي عمليات يې غندلي وو. *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت وياند وويل چې دغه اقدام د افغانستان ملي يووالي ته ګواښ پېښوي. د راپور تر خپرېدو پورې د راه فردا ټلويزيون خپروني ځنډيدلې دي.
- د مارچ په ۳، د غزني ولايت د رسنيو د سرغړونو کمېټې د خوشحال خصوصي راډيو فعاليتونه وځنډول. د ملي راډيو تلويزيون د ايکس پاڼې له مخې، د ځنډولو لامل دا و چې دغه راډيو له کلتوري او ټولنيزو ارزښتونو سره په ټکر کې فعاليتونه ترسره کول.[10] راپورونو کې ويل شوي چې دا اقدام وروسته له هغه عملي شو چې ښځينه زده‌کوونکو په ژوندۍ خپرونه کې له يوه نارينه وړاندې کوونکي سره ټيليفوني خبرې کړې وې. ياده راډيو د ۷ ورځو ځنډ وروسته، د مارچ په ۱۰مه خپلې خپروني بيا پيل کړې.

داسې يو واضح بهير نشته چې له مخې يې رسنۍ وکولای شي د چارو د ځنډ په اړه پوښتنې ګرويګنې وکړي.

د مارچ په ۱۸، خبريال مهدي انصاري خوشې شو، هغه د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر کې *برحاله* د استخباراتو لوی رياست له خوا نيول شوی و. هغه د ۲۰۲۵ کال په جنورۍ کې د *برحاله* چارواکو پر ضد د تبليغ په تور، ګواکې د يوې بهر مېشتې رسنۍ سره د اړيکو له امله، په ۱۸ مياشتو بند محکوم شو. د ۲۰۲۵ کال په جولای کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست او *برحاله* د استخباراتو لوی رياست د افغانستان د رسنيو سازمان درې کارکوونکي ونيول، هغوی لا هم په بند کې دي. له هغوی څخه دوه کسان د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر کې د بند په سزا محکوم شول (يو يې په دوه نيمو کلونو او بل په درې کلونو)، خو درېيم کارکوونکی نه دی محکوم شوی. دغه درې واړه کسان د ښځو د زده‌کړو د ترويج، د فحشا د خپرولو او جاسوسۍ په تورونو تورن شوي دي.[11]

## امر بالمعروف او نهي عن المنکر

د ۲۰۲۶ کال د جنوري له ۱ څخه د مارچ ۳۱ نېټې پورې، يوناما لږ تر لږه ۳۳۶ د خپلسرو نيونو او بندي کولو پېښې او ۵۹ د ناوړه چلند پېښې مستندې کړې دي چې د افغان ښځو او نارينوو پر وړاندې د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري کارکوونکو له خوا ترسره شوې دي. دا پېښې په عمومي ډول د نارينوو د ږيرې د لنډولو/لوېديځ ډوله وېښتانو ستايل، د موسيقۍ غږولو يا اورېدلو، او د ښځو په اړه د حجاب د لارښوونو څخه د سرغړونو اړوند وې.

*برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د رياستونو محتسبينو د بېلابېلو رخصتيو د لمانځلو او همدارنګه د روژې

[8] *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت د X پاڼه (https://x.com/MoICAfghanstan/status/2015655081644007665) .
[۹] *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وياند د X پاڼه (https://x.com/K_Ghufran_415/status/2027818729963196566) .
[10] د RTA (د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون) غزني ولايت د X پاڼه https://x.com/RTA_Ghazni/status/2029129649201250523 .
[11] د يوناما/د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ دفتر(OHCHR) ، *په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت په اړه تازه راپور: جولای – سپټمبر ۲۰۲۵*، ۲۸ اکتوبر ۲۰۲۵. سرچينه : https://unama.unmissions.org/en/document-library/human-rights-situation-afghanistan-july-september-2025-update.

د نیولو په تړاو اقدامات ترسره کړي:

- د فبرورۍ په ۱۴، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست محتسبينو د ګلانو دوکانونه څارل څو خلک د ولېنټاين (د مينانو ورځ) د لمانځنې لپاره د ګلونو له اخيستلو منع کړي. یوناما لږ تر لږه دريو ولایتونو کې د هغو کسانو د نیولو پېښې مستندې کړې دي چې د ولېنټاين د ورځې د ډاليو د پلورلو يا اخيستلو په تور تورن شوي وو. *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر  وزارت وياند سيف‌الاسلام خيبر د افغانستان په کچه د ولېنټاين د ورځې د لمانځنې په اړه خواشيني څرګنده کړه او دا يې لوېديځ دود وباله چې د اخلاقي فساد او د بهرني کلتور د تقليد پر بنسټ ولاړ دی.[12]
- د روژې په میاشت کې (له ۱۷ فبرورۍ څخه تر ۱۸ مارچ پورې)، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست محتسبينو د روژې  نيول او جماعت سره د لمونځونو د ادا کولو څارنه کوله، چې د لمانځه په وخت کې د دوکانونو تړل هم پکې شامل وو. په ځينو ولايتونو کې، هغه کسان چې د روژې پر مهال يې خواړه خوړلي وو، له بد چلند سره مخ شوي او نيول شوي وو. همدارنګه هغه کسان چې د تراويح لمونځ ته نه وو تللي يا يې د لمانځه په وخت کې خپل دوکان نه و تړلی، ار شوي چې دا کار وکړي او ځينې يې له بد چلند سره هم مخ شوي دي.
- د نرخونو د کنټرول او د احتکار د کمېټې د کار د يوې برخې په توګه، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري محتسبينو بازارونو او مارکيټونو څخه ليدنې ترسره کړې تر څو پلورونکي وهڅوي چې د کوچني اختر له رارسېدو مخکې د توکو له احتکار او د بيو له لوړولو ډډه وکړي.
- د مارچ په ۲۱، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر  وزارت وياند د ايکس له لارې خلکو ته يادونه وکړه چې نوروز (نوی کال)[13] و نه لمانځي، کوم چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون له مخې منع شوی دی.

## د مذهب آزادي

لږ تر لږه په اتو ولايتونو کې، د *برحاله* چارواکو استازو (د *برحاله* پوليسو، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست، *برحاله* د استخباراتو لوي رياست، *برحاله* ولسوال او *برحاله* د حج او اوقافو رياست) شيعه مذهبه ټولنو ته لارښوونه کړې وه چې کوچنی اختر د شيعه مذهب جنتري له مخې ونه لمانځي او د *برحاله* چارواکو له خوا ټاکل شويو نېټو سره سم يې ولمانځي.[14] په يو ولايت کې، *برحاله* د حج او اوقافو رياست کارکوونکو د شيعه علماوو يوه ډله د دې لپاره ونيوله چې هغوی د *برحاله* چارواکو له اعلان شوې نېټې سره سم د کوچني اختر لمانځلو سره موافقه نه وه کړې.

په کابل کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبينو د نوي کال په مناسبت ښځې يو زيارت ته له ننوتلو منع کړې، حال دا چې نارينه و ته د ننوتلو اجازه ورکړل شوې وه (سره له دې چې د نوي کال لمانځل په عمومي ډول منع اعلان شوي وو). په هرات کې، د جنورۍ په میاشت کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبينو د شيعه ګانو يو جومات ته لارښوونه وکړه چې ښځې دې په جومات کې د ماښام په لمانځه کې له ګډون څخه منع شي.

## عدلی اجراآت

### *د محاکمو جزايي اصولنامه - ۱۲ مه شمېره فرمان*

د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ په ۷مه نېټه، *برحاله* ستره محکمې

[12] *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت وياند د X  غير رسمي پاڼه: https://x.com/SAiFKHAiBAR1718/status/2022740149998932416 .
[13] *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت وياند د X رسمي پاڼه: https://x.com/SyfRsmy45330/status/2035200920662024402.
[14] *برحاله* ستره محکمې په  X پاڼه اعلان وکړ چې ۱۹ د مارچ د کوچني اختر لومړی ورځ ده.

ټولو محاکمو ته د طالبانو د مشر نوی توشیح شوی فرمان "د محاکمو جزايي اصولنامه" د تطبیق لپاره یو متحدالمال ولیږه. دغه فرمان ګڼ شمېر کړنې جرم ګڼي او د تعزیري مجازاتو د تطبیق اصول تنظیموي.[١٥] د یادونې وړ ده چې:

- دغه فرمان د "عامه مصلحت پر بنسټ" او "د طالبانو د مشر په تایید" سره هغه جرمونه تعریف کوي چې د مرګ سزا پرې تطبیق کېدای شي.[١٦] په دې کې دا موارد شامل دي: "پر فساد دوام کونکی یا ترویج کول"، "د اسلام خلاف د باطلې عقیدې دفاع کونکی"، کوډګر، زندیق، دین ته سپکاوی، لواطت، او غلا.[17]
- دغه فرمان مېړه د خپلې ښځې له "سختو وهلو" چې په پایله کې یې "کسر، زخم، او یا په بدن کې شینوالی ښکاره شي" منع کوي؛ او ۱۵ ورځو حبس سزا یې ورته ټاکلې ده.[18]
- دغه فرمان دا هم وایي چې که یوه ښځه د "خپل مېړه له اجازې" او/یا "له شرعي عذر" پرته د خپل پلار یا نورو خپلوانو کور ته بار بار لاړه شي او هلته پاتې شي، او خپلوان یې د قاضي له پرېکړې سره سره هغه "خپل مېړه ته په لاس نه ورکوله"، نو ښځه او هغه کسان چې د هغې د بېرته ستنېدو مخه نیسي، په درې میاشتو حبس محکومېږي.[19]
- دغه فرمان سني مذهب د لوړې دیني عقیدې په توګه ټاکي او نور باورونه "مبتدع [بدعت]" ګڼي.
- دغه فرمان د *برحاله* چارواکو د مقرراتو، تګلارو او د شریعت د تفسیر پر وړاندې نیوکه جرم ګڼي، چې دا موارد په کې شامل دي:
    - د شرعي احکامو او اسلامي شعائرو باندې قصدي تمسخر یا له هغو سره سم عمل نه کول (سزا یې دوه کاله حبس دی).[20]
    - د امام سپکاوی (سزا یې ۳۹ دُرې او یو کال حبس دی).[٢١]
    - د *برحاله* چارواکو د هر مشر سپکاوی (سزا یې شپږ میاشتې حبس او ۲۰ دُرې دي).[٢٢]
    - هغه کسان چې په "مباحاتو" د امام له حکم څخه سرغړونه وکړي (سزا یې یو میاشت حبس دی).[٢٣]
    - *برحاله* چارواکو ته "حکومت د مخالفینو" د غونډو د راپور نه ورکول ( سزا یې دوه کاله حبس دی).[٢٤]
    - "محاربینو، غلو، باغیانو یا نورو مفسدینو" ته پناه ورکول (سزا یې پنځه کاله حبس او ۳۹ دُرې دي).[25]
- د دې فرمان له مخې، "علما" او "اشرافو"  ته د خبرداری، محکمې ته د احضار او نصیحت په څېر مجازات ورکول کېدای شي، په داسې حال کې چې "منځنۍ او ټیټې طبقې" اشخاص د دُرو او حبس په سزا محکومېدای شي.[26] د دې فرمان له خپرېدو وروسته، د *برحاله* چارواکو ویاند په عامه توګه څرګنده کړه چې د دې مادې موخه د طبقو پر بنسټ د توپیر وېش نه دی، بلکې محکمې د هر

[١٥] *برحاله* ستری محکمی د X پاڼه (https://x.com/SupremeCourt_af/status/2013584940881862848?s=20).
[16] تر دې مهاله، *برحاله* چارواکو ۱۲ قضایي اعدامونه په عام محضر کې ترسره کړي، چې ټول اعدام شوي اشخاص په قتل تورن وو.
[17] ۱۲ ګڼه فرمان، د محاکمو جزایي اصول نامه، ۱۴، ۱۶ (۱)، ۴۲ (۲) او ۶۰ ماده.
[18] ۱۲ ګڼه فرمان، ۳۲ ماده.
[19] ۱۲ ګڼه فرمان، ۳۴ ماده.
[20] ۱۷ ماده.
[٢١] ۱۲ ګڼه فرمان، ۱۸ ماده.
[٢٢] ۱۲ ګڼه فرمان، ۲۳ ماده.
[٢٣] ۱۲ ګڼه فرمان، ۱۹ ماده.
[٢٤] ۱۲ ګڼه فرمان، ۲۴ ماده.
[25] ۱۲ ګڼه فرمان، ۲۵ ماده.
[26] ۱۲ ګڼه فرمان، ۹ ماده.

شخص جنايي سابقه او د جرمونو تکرار په پام کې نيسي.[27]

### *د بنديانو حقوق*

د جنورۍ په ۲۰مه، *برحاله* سترې محکمې ټولو محکمو ته په يوه متحدالمال کې بيا ټينګار کړی وو  چې اشخاص يوازې تر لسو ورځو پورې *برحاله* د کورنيو چارو وزارت يا د استخباراتو لوي رياست په نظارت خونو کې ساتل کېدای شي. په متحدالمال کې همدارنګه راغلي که امنيتي ادارې له محکمو څخه د مودې غځولو غوښتنه وکړي، نو محکمې کولای شي تر پنځو ورځو پورې د توقيف موده نوره هم وغځوي. که له دې پنځو ورځو وروسته لا هم نورو څېړنو ته اړتيا وي، نو دغه څېړنې بايد د محکمې سره يو ځای ترسره شي.[28]

د مارچ په ۲ نېټه، *برحاله* د زندانونو د چارو د تنظيم اداري اعلان وکړ چې *برحاله* د کار او ټولنيزو چارو وزارت سره يې هوکړه ليک لاسليک کړی تر څو هغه خوښې شوې نارينه او ښځينه بنديانې چې مسلکي پروګرامونه يې د بند په موده کې بشپړ کړي، *برحاله* د کار او ټولنيزو چارو وزارت ته د کار موندنې په موخه وروپېژني.[۲۹]

د مارچ په ۱۸مه، *برحاله* ستري محکمې اعلان وکړ چې د کوچني اختر په مناسبت ۴۵۹۶ بنديان له زندانونو څخه خوشې شوي او ۴۴۰۷ کسانو د بند په سزا کې کموالی راغلی دی. د بياکتنې بهير د يوې کمېټې له خوا، چې مشري يې د سترې محکمې د قضايي تفتيش عمومي رئيس کوله، ترسره شوی او په رسمي ډول د طالبانو د مشر له خوا تاييد شوی وو.[30]

### *د عدلی اجراآتو په اړه د برحاله چارواکو اعلامې*

د جنورۍ په ۱ نيټه، د *برحاله* چارواکو مرستيال وياند اعلان وکړ چې په ۲۰۲۵ کال کې *برحاله* محکمو شاوخوا ۲۴۱۷۹۹جزايي او حقوقي قضيو ته رسېدنه کړې، شاوخوا ۵۴۹۵۶ قضيې د سولې [منځګړيتوب] له لارې حل او فصل کړې دي، څلورو ولايتونو (فراه، نيمروز، بادغيس او خوست) کې پر شپږو کسانو د قصاص حکم تطبيق شوی دی، او ۱۱۱۸ مجرمينو او متهمينو ته تعزيري سزاګانې ورکړل شوې دي. تعزيري سزاګانې د نشه‌يي توکو اخيستل او خرڅول، نشه يي توکو استعمال، غلا، لواطت، زنا، د جعلي پيسو کارول، نامشروع اړيکې، قطاع الطريقي او ځينې نورو کړنو اړوند وې.[۳۱]

د جنورۍ په ۱ نيټه، د *برحاله* چارواکو مرستيال وياند اعلان وکړ چې د ۲۰۲۵ کال د مارچ ۲۱ راپديخوا *برحاله* د عدليې وزارت ۱۰۴ تقنيني اسناد اجرا کړې، چې د ټولنيزو رسنيو قانون، د څرځايونو قانون، د ځنګلونو د چارو د تنظيم قانون، د چاپېريال قانون، د پوليسو قانون او د کانونو قانون پکې شامل دي؛ او ۱۲ هغه تقنيني اسنادو بيا کتنه يې ترسره کړې چې د طالبانو د مشر له خوا تاييد شوي دي.[۳۲]

د جنورۍ په ۲۸ مه، *برحاله* د عدليې وزارت د ايکس پاڼې له لارې يوه اعلاميه خپره کړه چې د اسلامي امارت له قوانينو سره مخالفت د شريعت پر وړاندې له اعتراض سره برابر ګڼل شوی او قانوني پايلې لري. په اعلاميه کې ټينګار شوی چې ټول قوانين د افغان علماوو، د عدليې وزارت، د سترې محکمې او د امير د دفتر اړوند کمېټو له خوا ترتيب او بياکتنه يې ترسره شوې، او د قرآن، سنت او حنفي فقهې پر بنسټ ولاړ دي او د امير له خوا توشيح شوي؛ له همدې امله هر ډول اعتراض پرې علمي

[27]الاماره انګلیسی، *د بي بي سي سره د افغانستان اسلامی امارت وياند، ذبيح الله مجاهد وروستی مرکې متن،* ۳۰ جنوری ۲۰۲۶. سرچينه: [https://www.alemarahenglish.af/transcript-of-the-recent-interview-of-zabihullah-mujahid-spokesman-of-the-iea-with-bbc/](https://www.alemarahenglish.af/transcript-of-the-recent-interview-of-zabihullah-mujahid-spokesman-of-the-iea-with-bbc/) ("په ټولنه کې سزاګانې متفاوتې وي ځکه... موخه يې د خلکو منع کول دي نه يوازې د جزا تطبيق. ځينی خلک په يوه خبره منع کيږی ځکه چې حيثت لری او عزت نفس يې لوړ وی. ځينی خلک... متکرر مجرمين وی چې هغه سختې سزا ته ضرورت لری. ځينی خلک يوازې يوې توصيې سره منع کيږی، خو ځينی بيا يوازې په بندی کيدو سره منع کيږی." د دې نه ورهاخوا، "د ټيټې رتبی خلک، پدی اصول نامه کی هغه چا ته ويل کيږی چې متکرر مجرم وي . د مثال په ډول، څو څو واری په غلا نيول شوی وی يا څو څو واری يې داسی کړنی او جرم تر سره کړی وی او دی په توصيې سره نه يې منع شوی. پداسی قضيو کی، قاضی مجبوره دی چې د شخص سابقه اوپه ټولنه کې د هغوي د فساد محدوده په نظر کې ونيسي، چې کيداې شي بندي کيدو ته يې اړتيا وي." ). همدارنګه دويچه ويله (دری) وګوری، *د برحاله چارواکو وياند ذبيح الله سره مرکه.* ۳۱ جنوری ۲۰۲۶. سرچينه: [https://www.youtube.com/watch?v=iNlkDxH3rK0](https://www.youtube.com/watch?v=iNlkDxH3rK0) ("دا مناسبه نده چی ادعا وشی چی دا اصول نامه ټولنه په څلورو طبقو ويشي، لکه علما، لوړه طبقه، منځنۍ طبقه، او ټيټه طبقه "، او همدا يې تشريح کړه).

[28] *برحاله* ستری محکمی د X پاڼه ([https://x.com/SupremeCourt_af/status/2013584940881862848?s=20](https://x.com/SupremeCourt_af/status/2013584940881862848?s=20)).

[29] *برحاله* د زندانونو د چارو د تنظيم د اداري X پاڼه ([https://x.com/opa_af/status/2028391117939683626?s=20](https://x.com/opa_af/status/2028391117939683626?s=20)).

[30] *برحاله* ستری محکمی د X پاڼه ([https://x.com/SupremeCourt_af/status/2034200723441762505?s=20](https://x.com/SupremeCourt_af/status/2034200723441762505?s=20)).

[۳۱] د *برحاله* چارواکو د مرستيال وياند د X پاڼه ([https://x.com/FitratHamd/status/2006618777924907025?s=20](https://x.com/FitratHamd/status/2006618777924907025?s=20)).

[۳۲] د *برحاله* چارواکو د مرستيال وياند د X پاڼه ([https://x.com/FitratHamd/status/2006637266886861262?s=20](https://x.com/FitratHamd/status/2006637266886861262?s=20)).

بنسټ نه لري او د شریعت له مخې جرم ګڼل کېږي چې د قانوني تعقیب سبب ګرځي.[33]

د فبرورۍ په ۹مه، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د ایکس پاڼې له لارې یوه اعلامیه خپره کړه او خلکو ته یې بلنه ورکړه څو د دې اداري د کارکوونکو د کړنو په اړه خپل شکایتونه له شواهدو سره وړاندې کړي، او دا یې هم یقیني کړي چې د شکایت کوونکو پېژندنه به پټه پاتې شي. اعلامیه کې ټینګار شوی وو چې کارکوونکي یې د اسلامي قانون تابع دي؛ سرغړونې به وڅېړل شي او شکایتونه به د اسلامي شریعت له مخې د محکمو له خوا تعقیب او حل شي.[34]

د فبرورۍ په ۱۷مه، طلوع نیوز راپور ورکړ چې د طالبانو مشر یو نوی قانون "د مبلغینو قانون" (۱۰مه شمیره فرمان، د ۲۰۲۵ کال د دسمبر ۴مه نېټه) تصویب کړی دی، چې له مخې یې د دیني تبلیغاتو تنظیم د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت تر واک لاندې راوستل شوی دی.[35]

د راپور ورکولو په دی موده کې، *برحاله* سترې محکمې ۲۹ اعلامیې خپرې کړي چې په ۱۷ ولایتونو کې د وژنو د ۳۳ قضیو په حل کې د محکمو د منځګړیتوب رول روښانه کوي، چې په دې کې غیر قصدي وژنې او د قتل هغه قضیې هم شاملې وې چې د قصاص (د مرګ سزا) تطبیق په کې ممکن وو.[36]

[33] *برحاله* د عدلیې وزارت د X پاڼه (https://x.com/MojAfghanistan/status/2016395819105264104?s=20).
[34] *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست د X پاڼه (https://x.com/GDI1415/status/2020871534911328357?s=20).
[35] د طلوع نیوز X پاڼه (https://x.com/TOLOnews/status/2023773335432425625?s=20). دا قانون په ۱۴۸۳ شمیره رسمي جریده کې خپور شوی (*برحاله* د عدلیې وزارت ویب سایټ: http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx).
[36] *برحاله* د سترې محکمې په X پاڼه باندې بیلابیل اعلانونه (https://x.com/SupremeCourt_af).